د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د هرجائزاکرنه

# خمکښي بِسمِ الله لوستل

16 اپریل 2026



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): په مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو په **حلقو** کښې په **72 نیک اعمال** کښې د یو نیک عمل د **جائزو کارونو نه مخکښې د بِسمِ الله لوستلو** په باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د تیلو لګولو په وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- په اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

## د هر جائز کار نه مخکښې بِسمِ الله لوستل

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** په ما باندې ډیر ډیر دُرُودِ پاک لولئ بے شکه ستاسو په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده- (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 46

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ګناهونو او د بدو اخلاقو نه د بچ کیدو او د ژوند د آدابو اِختیاولو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي وروڼو او د طالبِ علمانو وغیره د پاره د سوالونو په شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 46** په باره کښې زدکړه-

**نیک عمل نمبر: 46** آیا نن تاسو د هر جائز او عزت والا کار نه مخکښې بِسمِ الله لوستلې؟

---

1... تاریخ مدینۃ دمشق، جلد:61، صفحہ:381۔

# آیت مبارک

**اللّٰه** پاک فرمائیلي دي:

وَاذْكُرِاسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۝۲۵ (پارہ:29، سورۂ الدھر:25)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او سحر او ماښام د خپل **رب** نوم یادوه۔

یعنې شپه ورځ هر وخت، په هر حال کښې د **اللّٰه** پاک ذِکر کوه! [1] مونږ له پکار دي چې په دې آیت مبارک باندې د عمل کولو په نیت سره د هر جائز کار نه مخکښې بِسمِ اللّٰه لولو۔ داسې به په کار کښې برکت هم راشي او د **اللّٰه** پاک ذِکر به هم وشي۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

کوم اهم کار چې د بِسمِ اللّٰه سره شروع نه کړے شي، هغه نیمګړے او نا مکمله پاتې کیږي (یعنې په هغې کښې برکت نه پاتې کیږي)۔ [2]

## د بِسمِ اللّٰه په باره کښې حُکمونه

(1): د هر جائز کار نه مخکښې بِسمِ اللّٰه لوستل سُنَّت دي (2): د حرامو کارونو د جائز ګڼلو سره د هغې په شروع کښې بِسمِ اللّٰه لوستل کُفر دے (3): د حُقې، سګریټ، کچه پیاز، اوګې وغیره بد بوداره څیزونو خوړلو په وخت بِسمِ اللّٰه وئیل مکروه دي۔ [3]

## د بِسمِ اللّٰه لوستلو فائدې

❀ د کوم کار نه مخکښې چې بِسمِ اللّٰه ولوستلے شي په هغې کښې برکت راځي ❀ د شیطان نه حفاظت کیږي ❀ او د **اللّٰه** پاک مدد شاملیږي ❀ د یو ځل بِسمِ اللّٰه لوستلو سره

[1] ... تفسیر روح البیان، پارہ:29، سورۃ الدھر، زیر آیت:25، جلد:10، صفحہ:280۔
[2] ... جامع صغیر، صفحہ:391، حدیث:6285۔
[3] ... فتاویٰ فیض الرسول، جلد:2، صفحہ:506، بتغیر قلیل۔

76 زره نیکۍ میلاوېږي، 76 زره ګناهونه معاف کېږي او 76 زره درجې اوچتېږي۔ (1)

❁ څوک چې د 7 ورځو پورې په اول او په اخر کښې د درودِ پاک سره 786 کرته بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم ولولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هر حاجت به یـې پوره شي ❁ څوک چې د شپې د اودهٔ کیدو په وخت 21 کرته بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم ولولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هغه به په هٰغه شپه د شیطان، غلا، ناڅاپه مرګ او د هر افت نه محفوظ اوسي۔ (2)

**نوټ:** د بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم په لوستلو کښې د صحیح مخارِجو سره د حروفو ادائیګي ضروري ده، ځکه یـې چا قاري یا عالِم ته واوروئ، که حروف د صحیح مخارِجو سره نهٔ ادا کېږي نو زده یـې کړئ! ګنې بیا یـې د فائدې په ځائے د نقصان اندیښنه ده۔

## د هر جائز کار نه مخکښې د بِسمِ الله لوستلو د عادت جوړولو طریقې

❁ د بِسمِ الله شریف فضائل ولولئ! یاد یـې ساتئ! (د دې د پاره د امیر اهلسُنّت دامَت بَرَکاتُهُم العالِیه کتاب **فیضان بِسمِ الله** لوستل ډیر فائده مند دي) ❁ که د یو کار نه مخکښې بِسمِ الله لوستل هیر شي نو چې کله رایاد شي فوراً یـې ولولئ! دې سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په ورو ورو عادت پوخ شي ❁ په داسې ځایونو کښې په کوم چې نظر پریوځي بِسمِ الله ولیکئ او ویې لګوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې سره به بِسمِ الله لوستل رایادېږي.

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** نن مونږ د نیک عمل نمبر: 46 مطابق د **جائز کارونو نه مخکښې د بِسمِ الله لوستلو** په موضوع باندې ګټه ور معلومات حاصل کړل، نیت اوکړئ چې روزانه به د هر جائز کار نه مخکښې بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم لولو۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

**الله** پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

---

1 ... فیضان سنت، صفحه:134۔

2 ... فیضان سنت، صفحه:53۔

# د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د تيل لګولو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

ترجمه: د اللّٰه پاک په نوم شروع چې ډير مهربانه، رحم کوونکے دے-

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوۡرَةُ الۡمُلۡك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آية الكرسى، تسبيحِ فاطمه، سُوۡرَةُ الۡاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د كنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا په تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا په مکتبة المدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګينټو کښې

کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينتې مو په ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا په کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو په سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا په 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا په وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52):

آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

❁ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ❁ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❁ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا محکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟